# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com  afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعی

۰۸ جنوری ۲۰۱۲

## د
# علی محمد مخلص
# عرفانی فرهنګ
## د محمد هارون خپل شعشعی
## لیکنه او څیړنه
## ۳۱

۸۹ ـ د مشاهداتو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ناسوت عالم

۹۰ـ د معقولاتو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ملکوت عالم

۹۱ـ د َملک عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ناسوت عالم

۹۲ـ د ملکوت عالَم : وګورئ عالم او د هغه ډولونه

۹۳ـ د ممکناتو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د جبروت عالَم

۹۴ـ د ناسوت عالَم : وګورئ عالم اود هغه ډولونه

۹۵ـ د نفسو عالم : وګورئ د« عالَم او د هغه ډولونه » تر عنوان لاندي د ناسوت عالم

**۹۶ـ دونیا، عقبا او مولا :**

عرفاني لیکني اوڅېړني د دونیا( دنیا)، عقبا اومولا په اصطلاحاتو ډکي دي . د اسلامي تصوف او عرفان په بې ساري نړۍ کي نه یوازي له دونیا او دونیايي اړېکو څخه کرکه کیږي، بلکي د جنت حورو، غلمانو او بې شماره نعمتو ته هم په لوړه سترګه نه کتل کیږي .

په اسلامي تصوف او عرفان کي له ازلي او ابدي ذات سره مینه او پتنګ غوندي ددې میني په اور کي لولپه کېدل، تر ټولو لوړه او اساسي مسأله ده . عارف، د عابد په څېر هغه څوک نه دئ، چي ددوږخو له ېېري ټول عُمر روژې نیسي؛ شپه او ورځ لمونځونه او ذکرونه کیي( کوي) . له بله پلوه، عارف د زاهد په شان، هغه څوک نه دئ، چي دجنت ښو او ښادییو ته د رسېدو په هیله، د دونیا له ګردو خوښییو، لذتو او اسانتیاوو څخه لاس پرېولي . بالعکس عارفان د دونیا او عقبا دواړو غوښتنه د خپلي لوړي او واقعي میني په وړاندي، خندونه او

حجابونه ګڼي . په بله ژبه، عارفان یوازې د خالق تعالی له انوارو او دیدار سره مینه لري؛ او یوازې د هغه بې نیازه ذات، د مینې او عبادت وړ بولي . د جنت حور وغلمان یا شات او شربت هیڅکله د عرفاني سالکانو مړې سترګې او لوږې ارواوې ځان ته نه اړیي (اړوي) . د اسلامي تصوف او عرفان دا نظریه تر ډېرې ګچې له اسلامي نصوصو څخه الهام اخلي . په قرآني آیتو او نبوي حدیثوکې د آخرت په وړاندې د دونیا دسپکوالي او ټیټوالي په اړه، پراخې خبرې سوې دي . د نسأ د سورې په اووه اویایم آیت « ۴ : ۷۷ » (قل متاع الدنیا قلیل والآخرة خیرلمن اتقی) کې پیغمبر ( ص ) ته لارښوونه سوې ده، چې خپل اُمت ته ووایي : « د دونیا پانګه یا ګټه لږ ده؛ او آخرت د پرهېزګارانو دپاره ښه دئ . » د توبې د سورې د اته دېرشم آیت ( ۹: ۳۸) په یوه برخه « . . . فما متاع الحیوة الدنیا فی الاخرة الا قلیل » کې بیا هم د آخرت د سرمایې په وړاندې د دونیا پانګه لږ او بې ارزښته ګڼله سوې ده . د مؤمن د سورې په نه دېرشم آیت ( ۴۰: ۳۹) « یا قوم انما هذه الحیوة الدنیا متاع و ان الآخرة هی دارالقرار » کې د دونیا پانګه بې بنسټه ( موقتي)؛ او د آخرت متاع پخه ( همېشنی) ګڼله سوې ده . د شورا د سورې په شلم آیت ( ۴۲ : ۲۰) « هم من کان یرید حرث الدنیا نوته منها وله فی الآخرة من نصیب » کې د هغه چا په اړه حُکم سوئ دئ، چې د دونیا په ملک او مال پسې غوټې وهي . د دې آیت د لارښوونو له مخې، الله تعالی خلګو ته دونیا ورکیي؛ خو دا خبره هم زیاتیي، چې په آخرت کې د هغوی هیڅ برخه نسته . د احقاف د سورې د شلم آیت ( ۴۶ : ۲۰ ) په یوه برخه کې د دونیا په نعمتو پسې لېونیيو کسانو ته سخت خبرداری ورکړل سوئ دئ . په دې آیت کې راغلي دي : « ویوم یعرض الذین کفرواعلی النارأذهبتم طیبتکم » یاني هغه ورځ، چې کافران د دوږخ اور ته وړاندې سي، ورته وبه ویل سي : تاسې خپل ټول خوندونه او نعمتونه په دونیا کې ختم کړي دي .

له الله تعالی سره لېونی مینه، د اسلامي تصوف اوعرفان اصلي او محوري موضوع ده . عارفان، د هغې د پېژندنې او پولو په باره کې ځانونه بې وسه ګڼي . مصری ذوالنون ( په ۲۴۵ هـ ق کې مړ ) وایي : « د محبوب د بېلتانه په پرتله د اور بېره، په یوه لوی دریاب کې د یوه څاڅکي د اچولو په څېر ده [۱] . »

په اسلامي تصوف او عرفان کې د وحدت الوجود د عرفاني او فلسفي نظریې نامتو مخکښ؛ او د الهي مینې شهید- ابومغیث یا ابوعبدالله حسین ابن منصور حلاج ( ۲۲۴ - ۳۰۹ هـ ق ) د دار ځړېدو په حال کې د خپلومریدانو او نورو ورغونډ سوو کسانو د یوې ډلې په حضور کې وویل : « خدایه! اوس د خپلو ارمانو او هیلو هغه منزل ته رسېږم، چې هورې ستا عجایب وګورم . الهي! ته خو له هغو کسانو سره هم مینه کیې، چې ستا د مینې بې قدري اوبې عزتي کیي، نو زما سره به څرنګه مینه ونه کې، چې د مینې په لار کې دې له ظلم او تعدا سره مخامخ یم[۲] . » د الهي مینې بل زړه سوځلئ عاشق - شبلي ( ۲۴۷هـ ق/ ۸۶۱ م – ۳۳۴ هـ ق/ ۹۴۶م) باور لري ، چې له خدای سره د یوې شېبې پیوستون احساس، د دونیا له پیل څخه تر پایه، د ټولو انسانانو تر عبادت غوره دئ[۳] . وتلې عارفه - رابعه د الهي مینې په اړه خپل احساسات داسې بیانیي : « اې خدایه ! زما د دې دونیا برخه، خپلو دښمنانو ته ورکه؛ او زما د آخرت برخه خپلو دوستانو ته ورکه؛ ته یوازې ما ته بس یې! اې خدایه! که دې د دوږخ له بېرې عبادت کوم، نو په دوږخ کې مې وسوځه؛ او که دې د جنت په هیله عبادت کوم، نوله جنت څخه مې وباسه؛ خوکه تا یوازې ستا په خاطر لمانځم، نوله خپلې تلپاته ښکلا څخه مې مه بې برخې کوه! »[۴]

د اسلامي تصوف اوعرفان مفکر لارښود - شېخ اکبر محی الدین ابن عربي ( ۵۶۰ - ۶۳۸ هـ ق )، چې الهي مینه خپل دین او ایمان ګڼي، په دې باب داسې لیکي : « هرڅوک چې مینه تعریف کړي، په حقیقت کې یې

هغه نه ده پېژندلي . هغه چا چي د عشق له جامه يو غوړَپ نه وي څښلئ، هغه هم عشق نه دی پېژندلئ . دغه راز، هغه څوک چي ادعا لري، د ميني په پيالي يي تنده ماته سوې ده، هغه هم مينه نه ده پېژندلي . مينه داسي شراب دي، چي د هيچا تنده نه ماتوي[۵] . » ابن عربي باور لري، چي هيڅ دين او مذهب د خدای تر ميني او عشق لوړ نه دئ[۶] . د اسلامي تصوف اوعرفان ځلانده ستوری - مولانا جلال الدين بلخي رومي (۶۰۴ – ۶۷۲هـ ق) د الهي ميني په باب ليکي : « تر هغه مهاله، چي مي د زړه مخ ستا خوا ته نه يي، خپل لمونځ د لمانځه په شان نه گڼم . که مخ کعبې ته گرځوم، دا ټول ستا د ميني دپاره دئ، که نه نو لمونځ او کعبه دواړه مي پرېښي دي[۷] . »

د وحدت الوجود فلسفه د زياترو عارفانو د لېونی ميني، محور او بنسټ دئ . د همدې فلسفي نړی ليد له مخي، عارف ځان د ماسوای الله له مفهوم څخه په بشپړه توگه پردی گڼي؛ او په هرڅه کي ښېله حق تعالی بل هيڅ نه گوري . دهمدې فلسفي ډکټورينو پر اساس، عارفان نه يوازي له هرچا او هر شي سره دسولي اودوستۍ په فضا کي ژوند کيي، بلکي له ټولو مخلوقاتو سره ميني او خپلوۍ ته د خپل دين او مذهب په سترگه گوري . عارفان، د وحدت الوجود د همدې فلسفي نړی ليدپربنسټ، په کايناتوکي داسي څه نه مومي، چي مينه او خواخوږي ور سره و نه لري؛ او په هغه کي د خپل محبوب تجلاوي ونه ويني؛ ځکه د عارف خدای ، د ټولو عالمو او گردو موجوداتو رب دئ . د اسلامي تصوف او عرفان نوميالي شخصيت - شېخ سعدي شېرازي عليه رحمه ( ۶۰۶ هـ ق ته نيژدې زېږېدلئ؛ او د ۶۹۱ - ۶۹۵ هــ ق ترمنځ مړ) همدا عرفاني مسأله په يوه خواږه او ښکلي بيت کي داسي بيان کړې ده :

« به جهان خُرم از آنم که جهان خُرم ازوست
عاشقم برهمه عالم که همه عالم ازاوست[۸] »

د پارسي ژبې دخُوږ ژبي او نوميالي عارف شاعر- د حافظ شيرازي ( په ۷۹۱ هـ ق کي مړ ) په ديوان کي هم د الهي ميني ډېر زړه وړونکي انځورونه تصوير سوي دي . هغه، په يوه غزله کي د جنت حور، قصور او نور بي ساري نعمتونه د خپل يار د کوڅي له خاورو او دوړو سره هم نه برابريي :

« باغ بهشت و سايهٔ طوبی و قصـــر حور
با خاک کوی دوســـت برابر نميکنم[۹] »

د پښتنو مفکر عرفاني لاربنود - پير روښان اورمړ د قرآن کريم د اسرأ ( بني اسراييل ) د سورې د دواويايم آيت ( ۱۷: ۷۲) « من کان فی هذه اعمی فهو فی الآخرة اعمی واضل سبيلا[۱۰] » له حکم سره سم، په دونيا کي د لوی څښتن د پېژندني دپاره هڅه او کوښښ، په آخرت کي د هغه د ليدو ضامن بولي . دغه راز، پير روښان د حضرت پېغمبر ( ص) دې مبارک حديث (کما تعيشون تموتون کما تموتون تبعثون کما تبعثون احشرون) ته اشاره کيي، چي د هغه پر بنسټ انسانان، لکه څنگه چي ژوندي يي هغسي مري؛ او په هغه ډول چي مري، په همغه ډول ژوندي کيږي؛ او په هغه بڼه چي ژوندي کيږي، په همغه بڼه په حشر کي اوسي[۱۱] . مياروښان، دغو معتبرو اسلامي نصوصو ته په پام اړولو سره يو پلا بيا دا حقيقت په ډاگه کيي، چي انسان بايد په دونيا کي د نفس د کمال او بشپړتيا لار غوره کي؛ او په خپل ټول وس د الله تعالی په پېژندنه کي هڅه او کوښښ وکي، که نه نو په آخرت کي به هم د دونيا په شان ړوند يي .

په الهي مينه کي سوځلئ عارف، علي محمد مخلص، هم په خپله عارفانه شاعرۍکي دين پر دونيا او مولا پر دواړو غوره گڼي :

دبهښت بها دنیا ده پرې یې ورکـړه!
چي یي کړې دا سودا هغه خوشحال دئ
پس له مرګه به ارمان کړې سود به نه وي
د بهښت د پیرېدولو وقت الحـال دئ
دین، دنیا پر مولا۱۲ وښندي قطعـي
چي یي عقل رسېدلئ تر کمال دئ
په بله غزله کي د دونیا، آخرت او الله ( ج ) مینان په دا سي په زړه پوري انداز پرتله کيي :
د دنیاعاقل زیانکار دئ که باورکړې !
د عقبا عاقل اِیله وینم صغیـر ډېر
د مولا مُحِب عاقل، کـامل، آزاد دئ
چي بې خدایه پر نور څه نه دئ اسیر ډېر
مخلص، له قرآني نصوصوسره سم، عرفاني پانګه د دونیا او آخرت تر پانګوډېره لوړه اوګڼوره بولي :
د دنیا سرمایه مال سود یي ګنـاه ده
سرمایه د آخرت طاعت بسیـاره
بهتر سود یي د جنت حورو قصور دي
چي دایم یي مشغولا ده لاشمـاره
د مولا د سوداګر مایه عرفـان شه
د صاحب دیداریي سود دئ له ګلزاره
د مخلص عرفاني نړی هیڅکله د آخرت په فضلیتو کي نه نغښتل کیږي . هغه، ځان د جبروت او لاهوت د عالمو مرغه ګڼي، چي اروا یي د جنت تر حورو او غلمانو ډېره لوړه ده . مخلص، په خپله عرفاني دونیاکي یوازې او یوازې د میني یا عشق غلام دئ . د هغه چا د میني غلام، چي په یوه دیدار کي یي د دونیا او عقبا تر ټولو نعمتو زیات خوند نغښتی دئ . مخلص، د الهي میني مسأله، د هونراو کمال په ډېرو ښکلو انځورو کي بیان کړې ده . په یوه غزله کي د دونیا، عقبا او مولا میني ته داسي ګوري :
څوک په فکر د دنیا، څوک د عقبـا۱۳ دي
د مُحِب په زړه کي فـکر د دلـدار شه
ځیني دین، ځیني دنیا غواړي لــه خدایه
د عاشق خواست له معشوقه خپل دیدار شه
مخلص، د دې نبوي حدیث : « ان الله لا یقبل من العمل الا ما کان له خالصا۱۴» په پیروی د هغه چا سخته غندنه او کرنه کيي، چي بې الهي میني په دې یا هغه پسي ځغاستي کیي . د مخلص په اند، داسي کسان د هغو معامله ګرانو او مزدورانو حیثیت لري، چي خپل زهد یا عبادت د اُجرت یا ګټي په بدل کي خرڅیي . دده عارفانه کلام دئ، چي وایي :
هرچي بې خدایه له خدایه نور څه غـواړي
کم همت، نادان، کم عقل ترحمـار شه
عبادت خاصه د خدای دپاره ښــه دئ

د جزا په اُميد کُل د مزدور کــار شه
چي له وېرې عبادت کاندي مــريى دئ
بې رجأ وخوف طاعت عمل ديـارشه
چي بندګي که د تښتن د څيز دپاره
په معنى کې د هغه څيز خدمتګار شه
چي بې دوسته په دووکونوغرض نــه که
هغه کس د عاشقيبه ســـزاوار شه

عارف د خپل ژور ي عرفاني پوهي له مخي د حق تعالى په ذات او صفتو ښه خبر دئ . د هغه ازل او ابد، د هغه قدرت او صلابت، د هغه جمال او جلال، د هغه ظاهر او باطن او د هغه د ذات بې شماره صفتونه ټول هغه څه دي، چي صوفي او عارف يې په مينه کي سوځي . مخلص، د « حب الدنيا حرام على اهل الآخرة والآخرة حرام على اهل الدنيا و هما حرامان على اهل الله١٥ » او « فضوح الدنيا اهون من فضوح الآخرة من طلب الدنيا بعمل الآخرة فما له فى الآخرة من نصيب١٦ » د نبوي احاديثو اود « من يعبد الله لاجل الجنة فهوعبد الجنة و من يعبد الله لاجل الخوف النار فهو عبد النار لا عبدالله١٧» د عرفاني مقولې په رڼا کي استدلال کيي : سالک تر هغه مهاله، د عرفان اسمان ته نسي ختلاى، چي په خپل زړه او اروا کي د دين او د دونيا پر ځاى، د خداى ميني ته ځاى ور نه کي . همدا مسأله په يوه غزله کي داسي انځوريي :

د عقبا په اهل ده دنيا حـــرامه
د مولا په اهل دواړي ناروا شته
که د حق په مينه دوه کونه ترک نه که
د طالب په لاره کښي دېوال برپا شته

مخلص، د واقعي د سورې د لسم آيت ( ۵۶ : ۱۰) « والسبقون السبقون١٨ » د څرګندي لارښووني له مخي، په آخرت کي د هغو عرفاني سالکانو د مخکي والي او لومړيتوب نظريه شني، چي پر دې دونيا يې د دوو جهانو د هر ډول اړيکو او غوښتنو په پرېښوولو سره د ايمان لوړ او بې ساري ثبوت وړاندي کړئ دئ :

چي يې زړه خلاص د دنيا له عـلايق شي
په سالکو کښي به دا سالک سابق شي
د دوو کونو علايق به له زړه پرې کــه
چي دهسي شهنشه پر مخ عاشق شي
چي د دووکونو بار کوز کاندي لـه سره
څړه تګ سرى پر لاره سوابـق شي
هر چي حُب يې د کونينو له زړه ويــوست
د مولا په محبت کښي به صادق شي

له حق تعالى سره سوځونکي مينه، د عارف د دردناک او اوږده خو لوړ او عظيم عرفاني سفر، يوازنى خوځونکى طاقت او ځواک دئ . مخلص، په يوه غزله کي د زړه په نوراني کولوکي د الهي ميني، خواږه جام ته داسي ګوته نيسي :

که د عشق پياله کړې نوشه دل افروزه

د زړه ملک به دي روښان نور شي له روزه
که څراغ د محبت دي پر زړه بــــل شي
روښنايي يې پر آفتاب زياته هـنوزه
د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : پوهه او عقل، تخلقوا باخلاق الله ،جمعيت او تفرقه، حضور او غيبت، د کايناتو او انسان د پيدايښت نظريه ، ذکر او فکر، عرفان او معرفت، مبدأ او معاد، موتوا قبل ان تموت او داسي نور .

لمنليکونه

1 Nicholson 116.

۲ نوربخش ۸۸ .

3 Nicholson 116.

4 Nicholson 114.

۵ يثربی، فلسفهٔ عرفان ۵۶ .

6 Nicholson 115.

7 Nicholson 105.

۸ يثربی، عرفان نظری: تحقيقی در سيرتکاملی و اصول و مسايل تصوف ، ۱۱۶.

۹ حافظ شيرازی ۲۵۸ .

۱۰ ژباړه : هغه څوک، چي په دونياکي ړوند يې، په آخرت کي به هم ړوند يې؛ او لار بې ( به يې) ورکه کړې يې .

۱۱ مخلص، حالنامهٔ بايزيد روښان ۱۹۷.

۱۲ اصل : مولی

۱۳ اصل : عقبی

۱۴ ژباړه : الله تعالی هغه عمل نه مني، چي يوازي د ده دپاره نه يي .

۱۵ ژباړه : د دونيا مينه، د آخرت پر خاوندانو؛ د آخرت مينه د دونيا پرڅښتنانواو د دواړو ( دونيا او آخرت ) مينه د خدای پر غوښتنکوحرامه ده .

۱۶ ژباړه : د دونيا خواري او فضيحت د آخرت تر خوارئ او فضيحت اسانه دي . هغه څوک، چي د آخرت په عمل سره د دونيا غوښتنه وکي، هغه ته د آخرت د نعمت هيڅ برخه نسته .

۱۷ ژباړه : هغه څوک، چي د جنت دپاره د خدای عبادت کيي، د جنت بنده دئ؛ هغه څوک چي د دوږخ د اور له بيري دخدای عبادت کيي، د اور بنده دئ، نه د خدای بنده .

۱۸ ژباړه : هغه کسان، چي په ايمان کي لومړي او مخکي دي، په آخرت کي به هم لومړي او مخکي يي .

پاته لري